AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شیرمحمد امیني ستانکزی ۲۰۲۰/۰۹/۲۲

# سوله الهي امر او د ولس غوښتنه ده!

د سولې نړیواله ورځ هرکال د نړۍ په ګوټ ګوټ او همدارنګه زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د وږي د میاشتې په ۳۱ مه نیټه لمانځل کیږي .افغان ولس دغې پرتمیني ورځې لمانځلو او راتګ ته لیوال په دې دي، چې دوی څه د پاسه په څلور لسیزو جګړو کې ژوند په ناخوالو او دربدرۍ تېر کړیدي او لاهم دوام ورکوي .

افغانستان کې د سولې ورځ د شهیدانو د اونۍ سره جوخت لمانځل کیږي. افغانانو د تېرو جګړو په پایله کې زیاتې قربانۍ ورکړي له دوه میلیونو څخه ډیری شهیدان او معیوب شوي ، نو د دغې اونۍ د درناوي لپاره د شهیدانو ارواوو ته ولس دعاګاني او د هغوی پاتې کورنیو ته د ډاډګیرني او تسلیت پیغام لیږي .

افغان ولس د شهیدانو او غازیانو د کارنامو اوسرښندنو یاد تازه کول؛ نوي نسل ته دا په ډاګه کوي، چې افغانان نه یوازې خپل سرونه له هېواده قربان کړي، بلکې د خاورې په ساتنه او خلاصون کې له ویاړ نه ډک تاریخ هم پرېښي دی، چې نن ورځ باید د خپلو نیکونو او پلرونو کارنامو ته درناوی ولري او روان سیاسي کړکیچ ته دپای ټکی کیږدي

په هېواد کې د تلپاتي او باعزتي سولې لپاره ټول ولس لېواله، دي، چې د سولې خوند وڅکي، څکه دوی له جګړو کرکه پیدا کړې، نه غواړي، چې نور دې افغانستان په اور کې لولپه شي . له ډیري مودې راهیسې د سولې خبرې پیل شوي، خو داچې د سولې پرمخ پراته خندونه او ځنډ ولې رامنځته کېدل؟ دا هغه پوښتني دي، چې د وخت پر اساس به ورته ځواب وویل شي او په هر حال؛ دې لپاره اوږد بحث ته اړتیا ده .

د تېرو سوله پېز وکاروانونو، مدني حرکتونو او تر ولسي وګړو، چې د سولې راتلو لپاره هڅې کړي او له جګړو ښکېلو اړخونو یې د رواني جګړې دریدنه یې کړې، اوسمهال ټول ولس هم د دواړو خواوو (حکومت او وسلوالو جنګیالیو) نه غوښتي، چې په چټکۍ توګه دې بین الافغاني خبرې پیل او اوږدمهاله اوربند دې وکړي . خو له نېکمرغه په دوحه کې بین الافغاني خبرې پیل شوي، موږ هیله من یو، چې مخامخ خبرې به هېوادوالو ته هیله بښوونکي زیرې ورکړي .

دسولې غږ په میراني پورته کول به ان شاءالله ډیر ژر وسلوالې ډلې او حکومت دې ته رامات کړي، چې د ولس غوښتني ومني او د هغوی هیلې راژوندۍ کړي. که چېرته د هېواد له هر کونجه د سولې غږ پورته شي، نو ډیر ژر به په هېواد کې د تلپاتي سوله لمن مخ پر غوړېدو وي .

سوله الهي امر، د افغانانو تل پاتې آرمان او دغه راز زموږ تولنیزه اړتیا ده، نو ځنګه چې دغه ځانګړنې لري باید په جګړې ښکیلې ډلې دې هم الهي امر ته غاړه کیږدي او هم د ولس غوښتنو ته درناوی ولري. ځکه دغه جګړه په هېوادوالو تپل شوې او دهېواد دخاورې دښمنان غواړي، چې ددغې جګړې اور ته نور هم پوکې ووهي.

دجګړو پرمهال افغان ولس له بیوزلی، ناقانونه کړوالی او نورو کړاونو سره مخ شوي، ترکومه بریده چې زموږ هیوادوال د یو ډاډمن افغانستان په هیله دي، خو دغه آرمان یې لا پوره شوې نه دی او اوس هم په خپل هیواد کې سره کړیږي .

اصلي خبره داده، چې هیڅ لوري د دې مظلوم ولس له کړاونو ډک ژوند ته د پای ټکی کینښود او د سولې راتلو زیری یې پرې ونه لوریده. خو دا چې خپله افغانان په خپلو کې سره روغه جوړه ونه کړي، هېڅکله بهرنې هېوادونه د افغانستان سیاسی معضله نشي حلولای، بلکې یوازې د دوی ملاتړ او مرستې ته اړتیا لیدل کیږي، چې په دغه ملي پروسه (سوله) کې له افغان ولس سره پاتې شي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ولس یوازینۍ غوښتنه له دولت او وسلوالو ډلو نه داده، چې د خلکو اوسنۍ هیلې مړاوې نه کړي، ژر تر ژره دې د رښتیني سولې راوستو په لټه کې شي، چې نور افغان ولس د آرامۍ ساه واخلي .

د خلکو په وینا، که وسلوالې ډلې غواړي، چې هېواد کې دې سوله وشي او دوی درګرده خپلو جګړو ته زور ورکوي، دا په حقیقت کې پر ولس ملنډې وهل دي، خو که رښتیا دوی د سولې لپاره ژمن پاتې کیږي، نو لومړۍ ځل دې اوربند مهاله اوربند وکړي او بیا دې په خپلو کې سره روغه، جوړه او د بین الافغاني خبرو پایله دې هېوادوالو ته مثبتې او د سولې راتلو زیرۍ پر افغان ولس ولوروي، چې افغان ولس د سولې په تمه دي، نو دغه ستر آرمان ته چې سوله ده، ژر تر ژره ورسیږي .
تل دوي سوله او مړ دې وي جنګ!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ